USAID
FROM THE AMERICAN PEOPLE
AGRICULTURAL CREDIT ENHANCEMENT

MINISTRY of AGRICULTURE,
IRRIGATION and LIVESTOCK
Statistics & Marketing Information Dept.

# د بازار لنډيز: د مميزو
# صادراتي ظرفيت ته يوه کتنه



# مميز

دا نشريه د د نړيوال پراختيا لپاره د امريکا د متحدو ايالاتو د کرنيز قرضونو د ملاتړ پروګرام لخوا د پاليسي او پلان جوړونې رياست د احصايې او بازارموندنې ديپارټمنټ په مرسته د افغانستان د کرنې، اوبو لګونې او مالدارې وزارت د نظر لاندې برابر شوی دی.

MARKET BRIEF

PAYWAND
پیوند

۱
ګڼه


# مميز

## محلی (سیمه ئیز) تولید

**په افغانستان کې د مميزو توليد په اوږد مهال کې مخ پورته ميلان لرى، خو په ۲۰۰۴ او ۲۰۰۶ کلونو کې ئی مخ په ځوړ ميلان هم وښود. له دغه مخ په ځوړ ميلان سره، سره په اوسنى لسيزه کې په افغانستان کې د مميزو توليد په سلو کې سل زياتوالى تجربه کړې دى.**

**د کلنى توليد ارقام او د ودى د ميلان نور تفصيلات په لمړى شکل کې ښودل شوي دي.**

لمړى شکل: د ۲۰۰۰ - ۲۰۱۰ کال په موده کې په افغانستان کې د مميزو توليد، په متريک ټن





| | 2000 | 2001 | 2002 | 2003 | 2004 | 2005 | 2006 | 2007 | 2008 | 2009 | 2010 |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| Production in MT | 16,000 | 16,000 | 26,000 | 25,000 | 18,000 | 31,000 | 20,000 | 25,000 | 25,300 | 29,000 | 32,000 |

منبع: PSD Online, USDA.

## نړيوال توليد:

**خو له دي سره سره افغانستان په ۲۰۱۰ کال کې د نړى د توليد په سلو کې ۳.۱ مميز توليد کړي دي. د مميزو د توليد پيژندل شوى هيوادونو لکه متحده ايالات له ۲۸۰۰۰۰ متريک ټن توليدى ظرفيت او ترکيه له ۲۴۰۰۰۰ متريک ټن ظرفيت سره خپل مقام ساتلى دى. البته ايران، چين او چيلى د مميزو په توليد کې ورپسى موقعيت په لاس کې لرى(دوم شکل)**

دوم شکل: به ۲۰۱۰ کال کې د مميزو توليدوونکى هيوادونه اوپه نړيوال توليد کې د هغو سلنى(فيصدى)




منبع معلومات: PSD Online, USDA.

د مميزو د بازار په هکله دغه لنډه ليکنه په ملى او نړيواله کچه د مميزو د توليد، مصرف، سوداګرى او قيمتونو د شته ارقامو د تحليل پر بنسټ لاندې اساسي پوښتنو ته ځواب ورکوي:

۱) آيا افغانى مميز کولاى شى په سيمه ئيزو او نړيوالو بازارونو کې سيالى وکړى؟، که چيرى ددى پوښتنې ځواب هو وى نو ۲) بايد د کومو هيوادونو بازارو نه موخه(هدف) وى او ۳) دغونيو بازارونو ته د رسيدلو لپاره کومى لارې شته دي؟


نومړو سوالانو ته ځواب خورا اهميت لرى، ځکه ۱) افغانستان د مميزو ځانګړى صادرونکى هيواد دى. مميز ددې هيواد د وچې ميوې عمده(غټ) صادراتى توکى دى چې په يوازى توګه په ۲۰۰۹ کال کې د افغانستان د ټولو صادراتو په سلو کې ۴۵ جوړوي ۲) افغانستان په عنعنوى توګه د مميزو په توليد او سوداګرى کې ښه پوهه لاس ته راوړى ده، او په دې توګه ښائي دغه هيواد وکړاى شى د مميزو د توليد او د حاصلاتو د اخيستلو وروسته مرحله کې د لړ سمون به راوستلو سره نړيوال معيارونه پوره کړى، او ۳) انګور هغه ميوه ده چې په پراخه کچه په افغانستان کې کرل کيږى، بنا پر دى د نمونړى توليد لپاره د پروسس دمرحلو سره سره د کټوربازار موندل داقتصاد دپرمختللو لپاره يوه ځانګړى موقع لاسته راوړى.

# د سوادګری بهیری

## صادرات

د مميزو صادرات لکه څنګه چې په دريم شکل کې ښودل شوي، په ۲۰۰۹ کال کې(۳۰) مليونه ډالرو ته رسيدلي دي. دغه صادرات په ۲۰۰۹ کال کې د هیواد د ټولو تولید شوو انګورو ۹۰ په سلو کې جوړ وی(Unstat and PSD online). له بلی خوا د مرکزی احصائيې د اداری د معلوماتو پر بنسټ د وچې ميوې صادرات د افغانستان د ټولو صادراتی توکو په سلو کې ۴۵ ته رسيږی. څنګه چې ليدل کيږی وچ انګور د هیواد ډير پيژندل شوی صادراتی توکی دی چې خپله لار يې نړيوال بازار ته خلاصه کړی ده. خو، آيا هغه ګټه چې له دې فرصت څخه لاس ته راتلای شی، سپړل شوی ده؟


۳ شکل: دمميزو صادرات د ۲۰۰۰ څخه تر ۲۰۰۹ پوری




منبع: UNSTAT Online database

څلورم شکل دافغانستان د مميزو د صادراتو عمده شريکان په وروستی لسيزه کې ښيی (ښکاروی). دغه ګراف له افغانستان څخه د صادراتی مميزو ارزښت، کميت او د يو کيلو مميزو متوسط قيمت په نظر کې نيسی. د روسيې او هندوستان بازارونه په نومورې موده کې د ډاډ وړ او ثبات لرونکی ښکاري، خو کله کله لږ مميزو په بريالیتوب سره د اروپا اتحاديې، بيلاروس او نورو بازارونو ته هم لاره پيدا کړی ده. له بلی خوا د مميزو نړيوال وارداتی جريان دا خبره په ګوته کوی چې په اوږد مهال کې نوی بازارونو ته تلل يو اجتناب نه منونکی ژيک حرکت دی.

**Fig. 4: Raisins' Export Partners of Afghanistan during 2000-2009***




منبع: ديتابيس UNSTAT (x = ارزش به دالر، Y = قيمت صادارتی به طور اوسط به دالر فی کيلو، واحد = مقدار به تن)

## د ممیزو نړیوال وارداتی جریان

په بازار کې، د افغانستان د ممیزو دونډې(برخې) تخمین(۳.۱٪) او د هیواد جغرافیائی موقعیت باید د ګټورو بازارونو د ویښني(تخصیص) بشپړوونکی و ګنټل شی. د اروپا اتحادیه د مستهلکینو د تقاضا او په داخل کې د عرضې له نظره، یوله دغو بازارونو څخه شمیرل کیږی. لکه چې په پنځم شکل کې لیدل کیږی د اروپا اتحادیه ډیر لوی او ستر واردونکی بازار دی (خپل تولید یې ۱۰۰۰۰ متریک ټنه او واردات یې ۳۱۵۰۰۰ متریک ټنه دی). روسیه بل لوی وارداتی بازار دی چې په ۲۰۱۰ کال کی ئی ۶۸۰۰۰ واردات درلودل. د معلوماتو او ارقامو بیاکتنه ښیي چې افغانستان همدا اوس هم بازارونو ته مهم عرضه کوونکی دی او په ۲۰۰۰ - ۲۰۱۰ کلونو کی ئی له ۱۵ تر ۲۰ ٪ پوری ممیزو ته د روسیې د بازار وارداتی تقاضا پوره کړی ده.
د وچو ممیزو لپاره د اروپا د اتحادیې د بازار تقاضا په پرله پسی توګه زیاتوالی موندلی او ارزښت یې په *۲۰۰۸ کال کې ۵۱۷ ملیونه ایرو (EUR) ته رسیږی.


دهمدغی سروی په اساس د اروپا د اتحادیې ترټولو ستر واردونکي هیوادونه انګلستان (د ممیزو د وارداتو په سلو کې ۳۱)، جرمنی(۱۹٪) او نیدرلیند(۱۳٪) دي. عمده عرضه کوونکي هیوادونه ترکیه (د وارداتو ۴۱٪)، او متحده ایالات (د وارداتو ۲۰٪) دی او وروسی ایران (۵.۷٪) او چیلی (۵.۲٪) موقعیت لری. په *۲۰۰۸ کال کې

افغانستان د اروپا د اتحادیې د ممیزو د وارداتو یوازی (۰.۱٪) برخه جوړوی (په ۲۰۰۹ کال کې د اروپایي اتحادیې بازارونو ته د مجاز(اجازه لرونکی) وچې میوې او مغزباب واردات، CBI)

**قیمتونه**

آیا دافغانستان ممیز د لوړو ترانسپورتی مصرفونو، تعرفوی او غیر تعرفوی خنډونو سره سره په کوم ځای کې د قیمت له کبله رقابت کولای شی؟
په دی برخه کې به مختلفو سیمو ته د ممیزو صادرات د شته، تاریخی او واقعی ارقامو پر بنسټ تر ځیرنی لاندی ونیسو.

**پنځم شکل: په ۲۰۱۰ کال کې عمده واردونکی هیوادونه**




منبع معلومات: دیتابیس USDA، PSD.

*د CBI دبازار سروی په وچو میوو او سبو ۲۰۰۹

# مميز

## موجوده صادراتی بازارونه/هند:

دا لاندی ګراف (شپږم شکل) په بنګلور/کرناټکا کې د ۲۰۰۹ کال له اکتوبر څخه د ۲۰۱۰ کال د اکتوبر تر میاشتی د ممیزو عمده قیمتونه او همدارنګه د ۲۰۱۰ کال د جولای او اکتوبر د میاشتو به موده کې په کندهار کې د ممیزو عمده قیمتونه ښیيي. د ممیزو قیمت د بنګلور په عمده بازار کې نږدی ثابت پاتي شوی که څه هم دوه ناڅاپه زیاتوالی د ۲۰۰۹ کال د اکتوبر او دسامبر د میاشتو په پای کې مینځ ته راغلی دی. دا لوړوالی ښائ د مستهلکینو د فصلی تقاضا د زیاتیدلو په سبب وی چې د ۲۰۱۰ کال د فبروری د میاشتی په پای کې د قیمتونو د رالویدلو په واسطه جبران شو. د نوی فصل په موده کې (د آګست تر میاشتی وروسته) قیمتونه په پرله پسی توګه لوړ شول. دغه قیمتونه په تیره بیا د بنګلور په بازار کې ډیری لوړی کچې ته ورسیدل چې د ممیزو د عمومی قیمتونو د لوړوالی له میلان سره تطابق لری (په ۲۰۱۰ کال کې د نړیوال بازار جریان، USDA, FAS). د ممیزو متوسط حداقل قیمت په نوموړي موده کې په ذکر شوی بازار کی هر کیلو په (۱،۷۷) امریکائی ډالره وو، په داسی حال کې چې متوسط حد اکثر قیمت یوکیلو په ۲.۷ امریکائی ډالرو دی.

له بلی خوا قیمتونو په کندهار کې د نوی فصل په پیل کې نزولی میلان درلود چې لامل ئی په عرضه کې زیاتوالی دی. د جولای د میاشتی څخه د اکتوبر ترمیاشتی پوری قیمتونه ۳۲٪ ښکته شول، په داسی حال کې چې متوسط قیمت د کندهار عمده بازار کې یوکیلو په ۰.۶۵ امریکائی ډالره وو.


په وروستیو څو میاشتوکې په دغو دوو بازارونو کې د ممیزو په قیمت کې لوی توپیر تر سترګو کیږی. په متوسطه توګه لړ تر لړه قیمت په بنګلور کې ۲۰۳٪ جګ دی، په داسی حال کې چې ډیر لوړ ارزښت په متوسطه توګه ۳۸۹٪ د کندهار د عمده قیمت په پرتله لوړ ښکاری.

نوموړی حقیقت لاندی پوښتنی رامینځ ته کوی:

الف) آیا په قیمتونو کې دغه لوی توپیر کولای شی افغانی ممیزو ته دا امکان برابر کړی چې د بنګلور په بازار کې د عمده خرڅلاو له قیمت سره رقابت وکړی؟

ب) آیا دغه تولید به په کوم قیمت نوموړی مارکیت ته ورسیږی؟

د ممیزو د صادراتی قیمت محاسبه هغه عملیه ده چې په کندهار کې عمده قیمت د ټرانسپورت، ګمرکی تصفیې او په هند کې د وارداتی تعرفې د مصرفونو په شمول تر شمیر لاندی نیسی او دا موضوع له مونږ سره مرسته کوی چې د قیمت په ښیګڼه باندی پوه شو. د ټرانسپورت لوړ مصرف په هر کیلو ګرام کې او د وارداتو پرسر لوړه تعرفه چې د انوایس د ارزښت (۵۰) په سلو کې جوړوی د ممیزو په قیمت کې ۹۳ په سلوکی زیاتوالی مینځ ته راځی او د یو کیلوګرام قیمت ۱.۲۵ امریکا ډالرو ته رسیږی.




منبع:www.agmarknet.nic.in, TAMAS, UsSAID's ADP/E, MALOMAT–Roshan & USAID's IDEA NEW, Custom Directorate India)

*Export Price includes Transport Costs, Custom Clearance and Import Tariff (India grapes ۵۰٪)


د ممیزو د صادراتی قیمت اوسط حد د ډیر لږ متوسط قیمت ښکارندوی ده چې پراساس به یې ممیز د بنګلور مارکیت ته ورسیږی. دغه ممیز نشی کیدای چې هر کیلو په متوسطه توګه له ۱.۲۵ امریکا ئی ډالرو څخه لږ په نوموړی موده کې خرڅ شی مګر دا چې متشبث ضرر ومنی. بل مهم واقعیت چې باید پاملرنه ورته وشی د خرڅلاو وخت دی . د افغانی ممیزو صادراتی قیمت په تیره بیا هغه وخت رقابتی بڼه درلودلای شی چې د کندهار په بازار کې د ممیزو قیمت تر نظر لاندی موده کې د څوړتیا خواته میلان ولري.

د ګټی ډیره لوړه ممکنه کچه له ۸۶څخه تر ۲۵۲ په سلو کې د ۲۰۱۰ کال د اکتوبر د میاشتی په پای کې ثبت شوی ده. (په هغه وخت کې د ۱.۲۵ امریکائی ډالرو صادراتی قیمت ۸۶ په سلو کې، په بنګلور کې د لږ تر لږه عمده قیمت په پرتله، او ۲۵۲ په سلو کې د بنګلور د ډیر لوړ عمده قیمت په پرتله). دګټی ډیره ټیټه کچه د جولای د میاشتی په لمړی اونی کې د صادراتی قیمت ۲۵ او ۹۲ په سلو کې ثبت شوی ده (په شپږم شکل کې د ټکو لړوونکی کرښې او د سرې او آبی کرښی مقایسه. توپیر به لږ څه نور هم ټیټ وی که چیری ۱۲.۵٪ VAT د صادراتی قیمت په محاسبه کې شامل شی، لکه په شپږم شکل کې(خاکستری مکمله کرښه).

**د روسیې بازار**

د اروپائی اتحادیې او کانادا تربازارونو وروسته د روسیې بازار د ډیری لویې تقاضا لرونکی ده. په ۲۰۱۰ کال کې د روسیې بازار لکه څنګه چې په دویم جدول کې ښودل شوی، سره له دی چې د ممیزو قیمت په پرله پسی توګه لوړ شوی ده، ۶۸۰۰۰ ټنه ممیز وارد کړی دی. دافغانستان د ممیزو قیمت هم لکه چې په اووم شکل کې لیدل کیږی ۷۵ په سلو کې لوړ شوی او په ۲۰۰۲ کال کې له ۲۶ روبلو(۰.۸۳ ډالره/هر کیلو) څخه په ۲۰۱۰ کال کې ۴۵ روبلو(۱.۶۵ امریکائی ډالرو) ته رسیدلی دی. له ۲۰۰۸ کال را په دې خوا د ممیزو عمده قیمتونه کیفیت، سیمی او شخصی ګټې ته په پاملرنې سره بیا هم لوړ شول او د هر کیلو قیمت د ۱.۵ او ۳ امریکائی ډالرو تر مینځ خوځیده. لمړی جدول عمده قیمت یا ممیز چې له مختلفو سیمو څخه په ۲۰۱۰ کال کې ماسکو ته وارد شوی دی، ښیې. د نورو هیوادونه په پرتله افغانی ممیز په رقابتی او ټیټه بیه(قیمت) خرڅیږی. دممیزو د قیمت تفاوت په کندهار او مسکو کې له ۲۲۵ تر ۳۸۵ په سلو کې ده. داسی څرګندیږی چې صادراتی بیه (قیمت) کله چې د نورو هیوادونو د ممیزو له عمده قیمتونو سره پرتله شی، وړ او مناسبه ښکاری. په ماسکو کې ډیر لوړ نقل شوی عمده قیمت، په منځنی توګه ۱۷۹ په سلو کې له صادراتی قیمت څخه چی هر کیلوګرام په ۱.۱۳ امریکائی ډالر کیږی، پورته دی، په داسی حال کې چې په ماسکو کې ډیر ټیټ عمده قیمت ۸۶ په سلو کی له صادراتی قیمت څخه جګ دی. په دی توګه کولای شو په نوموړی بازار کې د مفاد کچه او په مذاکراتو کې د افغان صادرونکو زیاتو امکاناتو او توان (په صادراتی قیمتونو کی) اټکل وکړو.

اوم شکل: په ۲۰۰۲ - ۲۰۰۷ کلونو کې په ماسکو کې د افغانی ممیزو قیمت، په روبل باندی




منبع معلومات: http://www.king-jsc.ru/price.html

# نوی بازارونه

لمړی جدول: د کندهار د عمده بازارونو عمده قیمت، د مسکو عمده قیمتونو له مختلو ځایونو، د کندهار-مسکو صادراتی قیمتونو، د مفاد نرخ، په امریکائی ډالرو په ۲۰۱۰

دویم جدول: د کندهار د عمده بازارونو عمده قیمت، د مسکو عمده قیمتونو له مختلو ځایونو، د کندهار-مسکو صادراتی قیمتونو، د مفاد نرخ، په امریکائی ډالرو په ۲۰۱۰

| د اندازی واحد (ډالر په کیلو) | صادراتی هیواد | موقعیت |
|---|---|---|
| 0.649 | افغانستان | عمده قیمتونو د کندهار په محلی بازار کي (کشمشی ممیز) |
| 2.11 | افغانستان | د افغانی ممیزو عمده قیمت په مسکو کي |
| 2.69 | ایران | د ایرانی ممیزو عمده قیمت په مسکو کي |
| 3.15 | چیلی | د چیلی ممیزو عمده قیمت په مسکو کي |
| 0.03 | | د روسيي وارداتی تعرفه - ٥٪ |
| 0.45 | | ترانسپورتی مصارف - |
| 1.129 | | د کندهار د ممیزو صادراتی قیمت په مسکو کي |
| 1.33222 | | صادراتی قیمت د قیمتو مالیات سره - ١٨٪ |
| **سلګونه** | | |
| %225 | افغانستان | د کندهار او مسکو د قیمتونو تفاوت |
| %314 | افغانستان - ایران | د کندهار او ایران د قیمتونو تفاوت |
| **%179-86** | | **د مفاد د ممکنه اندازه او د صادرکونکی د قیمت د مذاکری توانائی** |

منبع: http://www.king-jsc.ru/price.html

## د اروپا اتحادیه - نوی بازارونه:

داسی بریښی چې به عمده توګه د هوا د حالاتو په سبب له ترکيې، چین او همدا ډول متحده ایالاتو څخه صادرات تقلیل مومی.
په همدی بنسټ نړیوال فی واحد ارزښت لوړ شوی او د هر کیلوګرام ممیزو قیمت ١.٦ امریکائی ډالرو ته رسیدلی دی چې اساسی علت ئی په ۲۰۱۰ کال کي د ټولو ممیزو د عرضي ټیټدل دی (ممیز: نړیوال بازار او سوداګری په ۲۰۱۰ کال کی، USDA ، FAS)

د نوموړو انکشافاتو او همدا ډول د رقیبانو (رقابت کوونکو) د قیمتونو د پرتله کولو پربنسټ د ۲۰۰۹ کال په اکتوبر کي له ترکيي څخه د CIF قیمت په وسطی توګه هر کیلو په ۲ امریکائی ډالرو، له ایران څخه CIF قیمت هر کیلو ۱.۵ ډالره وو، په داسی حال کي چې د تولید کوونکو قیمت په متحده ایالاتو کی هر ټن په ۱۱۶۰ امریکائی ډالره یا د هر کیلوګرام قیمت ۱.۱٦ امریکائی ډالره وو، چې د افغانستان د ممیزو لپاره په اروپائی بازار کي د ښه فرصت او امکان ښکارندوی دی.

دویم جدول: په قندهار کی عمده نرخونه، په نورو ځایونوکی CIP نرخونه، په ۲۰۰۹ کال کی به امریکایی ډالرود کندهار- روتردام صادراتی بیه اود ګټی کچه

| USD/kg | د اندازي واحد |
|---|---|
| 0.65 | د تولیدوونکی متوسط قیمت - کندهار |
| 0.45-0.3 | د ترانسپورت مصرف |
| 0.02 | د اروپا د اتحادئي واداتی تعرفه(%2.4) |
| 1.20 - 0.95 | CIFاټکل شوی قیمت(د تولید کوونکی قیمت + ترانسپورت + وارداتی تعرفه) |
| **سلنه** | **د ګټی ممکن کچه** |
| %56-25 د هر واحد قیمت | د ایران CIF(قیمت) سره مقایسه |
| %108-67 دهر واحد قیمت | CIFترکيي سره مقایسه |

منبع: CBI، هالند، کال ۲۰۰۹.

# پایله

ملی لرلید: ممیز د افغانستان ډیر پخوانی صادراتی توکی ده. د ممیزو تولید، صادراتی ارزښت او په مختلفو بازارونو کې شته والی په دې لسیزه کې په څرګند ډول ډیر زیاتوالی موندلی دی.

نړیوال لرلید: افغانستان د ممیزو یو تولیدونکی هیواد پیژندل شوی دی، خو په دې ساحه کې اصلي لوبغاړی لکه ترکیه او متحده ایالات ډیر زیات تولید او اساسی وارد ونکیو هیوادونو لکه د اروپا اتحادیې ۱۷ هیوادونو ته ډیر صادرات لری.

د صادراتی بازار لرلید: لکه چې د صادراتی قیمتونو محاسبه ښییي د افغانستان ممیز د رقابت لپاره وړ او مناسب قیمتونه لری او باید ددې توان ولري چې د عمده تولیدونکو هیوادونو لکه ترکیې، ایران یا متحده ایالاتو په پرتله د ښه قیمت په وړاندی کولو سره عمده وارداتی بازارونو ته لار پیدا کړی. د ښه زمانبندی په نظر اخیستلو سره، د شته صادراتی بازارونو ښه مفاد مینځ ته راوړی شی. د نوی بازارونو د تشخص عمده قانون: نوی بازارونه باید صادرونکو ته ښه فرصت د شته بازارونو په مقایسه ایجاد کړی. د مثال په توګه اروپائی اتحادئی، چې په نړی کې استندرد ئی له نورو بازارونو نه لوړ ده، د مفاد نرخ یی نورو بازارونو ته ورته ده خو د صادراتو کچه یی کولای شی چې نورو باراونو نه زیاته وی، او هغه هم په هغه صورت کی چې دغه بازار ته ننوتل په موثر ډول صورت ومومی.

د متشبثینو لید: هغه مهم حقایق چې باید بازارونو ته تر داخلیدلو وړاندی په نظر کی ونیول شی دا دی: ۱) بازار ته د داخلیدلو وخت د قیمتونو د لیدنی په څیر چې د قیمتونو دورانی حرکت څرګندوی. په دې توګه کولای شو د ګټی کولو لپاره تر ټولو ښه وخت وټاکو. ۲) د عرضې او تقاضا نړیوال او سیمه ئیز جریان چې امکان لری قیمتونه او بازار ته د داخلیدلو په وخت کې ګټه په مثبت یا منفی توګه تر اغیز لاندی ونیسی

(نوی مثال: داسی ښکاری چې د ممیزو قیمتونه به د ۲۰۱۰- ۲۰۱۱ فصل په جریان کې په عمده تولیدونکو هیوادونو لکه ترکیه، متحده ایالات او چین کې د ناوړه اقلیمی حالاتو په سبب چه د عرضې د تقلیل سبب ګرځیدلی، لوړ شی. ۳) د بازار موندلو نور موضوعات چې په ښه توګه د مستهلکینو تقاضا رفع کوی او په اړونده بازارونو کې د هغوی په کړنو اغیزه کوی. د فرعی څانګو لرلید: نوی صادراتی بازار ته په بریالی توګه د ننوتلو لپاره هغه متشبثین دی چې له نوو فرصتونو څخه د ګټی خورا لوړول غواړی او د نوو بازارونو د تقاضا د رفع کولو لپاره ټول لازم اقدامات لکه په تولید کې زیاتوالی، د خپل محصول لپاره د ښه بازار د موندلو لاری چاری، ښه تصمیم نیول او/ یا د تجارت او سوداګری نوی نمونې، په نظر کې نیسی.

د فرعی څانګو د حمایت لپاره د صادراتو او بازار موندنې نوی استراتیژی ډیر اهمیت لری.

د ګټې د لاس ته راوړلو لپاره د بازار نوی فرصتونه خورا زیات دی.

د فرعی څانګو لرلید: نوی صادراتی بازار ته په بریالی توګه د ننوتلو لپاره هغه متشبثین دی چې له نوو فرصتونو څخه د ګټی خورا لوړول غواړی او د نوو بازارونو د تقاضا د رفع کولو لپاره ټول لازم اقدامات لکه په تولید کې زیاتوالی، د خپل محصول لپاره د ښه بازار د موندلو لاری چاری، ښه تصمیم نیول او/ یا د تجارت او سوداګری نوی نمونې، په نظر کې نیسی.

د فرعی څانګو د حمایت لپاره د صادراتو او بازار موندنې نوی استراتیژی ډیر اهمیت لری.

د ګټې د لاس ته راوړلو لپاره د بازار نوی فرصتونه خورا زیات دی.